

ابادي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

گڼه: ۳۸ | مسلسل نمبر: ۸۰
شنبه، د رجب المرجب ۳ مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د شاه او عروس اوبو بند د گټې اخیستنې په مراسمو کې گډون وکړ



۲ صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تخار ولایت له علماوو او قومي مشرانو سره وکتل




۲ مه صفحه

## په افغانستان کې د چاي بوټي کښت او د هغه اقتصادي ارزښت ته کتنه



۵ مه صفحه



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د جدي میاشتې په ۱۱مه نېټه د کابل ولایت په شکر دره ولسوالۍ کې د شاه او عروس بند د گټې اخیستنې په مراسمو کې گډون وکړ. محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د اوبو ارزښت ته په اشاري سره وویل، نن ورځ په نړیوال سیاست او اړیکو کې پر اوبو د یو مهم اقتصادي عنصر په توگه بحث کېږي او په یوشمېر هېوادونو کې یې ارزښت تر نفتو او قیمتي کاني زېرمو هم لوړ دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، اسلامي امارت د اوبو ارزښت او اړتیا په درک کولو سره د دغه مهم اقتصادي عنصر مدیریت ته جدي پاملرنه کړې او په همدې موخه یې د کابل ولایت په شکردره ولسوالۍ کې د شاه او عروس بند پاتې چارې بشپړې او اوس یې گټې اخیستنې ته سپارې.

دا یو واقعیت دی چې نن ورځ اوبه او د هغو مدیریت نه یوازې ملي، بلکې نړیوال لومړیتوب دی. دغه راز اوبه د شنه اقتصاد اصلي محور بلل کېږي. اوبه د اقتصادي پراختیا ترڅنگ د خوړو په امنیت، روغتیا، بې وزلۍ په راکمولو، د کرنې، صنعت او انرژۍ سکتورونو د ودې په برخه کې مهم رول لري. اسلامي امارت د اوبو ارزښت او په هېواد کې د اوبو د مهارولو او پر مټ یې په دې برخه کې شته ستونزو ته د پای ورکولو په موخه د هېواد د پریمانه اوبو د مهارولو او مدیریت له پاره متې رانغښتې دي. هڅه یې داده چې په ټول توان اوبه مهار او د هېواد شاړې دښتې زرغونې او سمسورې کړي. د اوبو د غوره مدیریت په برخه کې د اسلامي امارت وروستی گام د کابل د شکر درې د شاه او عروس بند د چارو بشپړول او گټې اخیستنې ته سپارل و. د شاه او عروس بند چې د ۳۵۰۰ هکتاره ځمکې د خړوبولو او د ۱.۲ میگاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، اوس چې گټې اخیستنې ته وسپارل شو، نو د کرنې په سکتور او دغه راز د برېښنا په برخه کې به چې د افغانستان په اقتصادي وده کې مهم رول لري، ستر پرمختگ رامنځته شي. د هېواد په بېلا بېلو برخو کې د اسلامي امارت له لورې چې پر کومو سترو بندونو کار روان دی، د دې بندونو په جوړېدو به له یوه لورې د هېواد پریمانه اوبه چې تر دې مهاله پرته له کومې گټې اخیستنې بهېدې، مهار او پر مټ به یې د هېواد د کښت وړ ځمکې زیاتې او د کرنې سکتور د پرمختگ ترڅنگ به د برېښنا په تولید کې زیاتوالی راشي او ورسره به زموږ د اقتصادي ودې له پاره مهم سکتورونه وده وکړي. د دې چارو په بشپړېدو به د هېواد اقتصاد هم غښتلی شي او هېواد به د پرمختگ په لور گړندي گامونه پورته کړي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د شاه او عروس اوبو بند د ګټې اخيستنې په مراسمو کې ګډون وکړ

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د جدي مياشتې په ۱۱ مه نېټه د کابل ولايت په شکر دره ولسوالۍ کې د شاه او عروس بند د ګټې اخيستنې په مراسمو کې ګډون وکړ. د ياد بند د ګټې اخيستنې په مراسمو کې د رياست‌الوزراء اداري او سياسي مرستيالانو سربېره د کابينې يوشمېر محترمو غړو، خصوصي سکتور استازو او د سيمې اوسېدونکو هم ګډون کړی وو.

محترم ملا صاحب په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو کې د اوبو ارزښت ته په اشارې سره وويل، نن ورځ په نړيوال سياست او اړيکو کې پر اوبو د يو مهم اقتصادي عنصر په توګه بحث کېږي او په يوشمېر هېوادونو کې يې ارزښت تر نفتو او قيمتي کاني زېرمو هم لوړ دی. د محترم ملا صاحب په خبره، له بدمرغه پر افغانستان د تحميل شوو جګړو او يوشمېر کورنيو او بهرنيو عواملو له امله په هېواد کې د دغه مهم اقتصادي عنصر د مديريت لپاره اساسي پانګونه نه ده

شوې او له همدې وجې د موسمي بارانونو او اقليمي بدلونونو له وجې د زياتو سېلابونو راوتلو پر مهال يوشمېر هېوادوالو ته د سر او مال زيان رسېږي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په خبره، اسلامي امارت د اوبو ارزښت او اړتيا په درک کولو سره د دغه مهم اقتصادي عنصر مديريت ته جدي پاملرنه کړې او په همدې موخه يې د کابل ولايت په شکردره ولسوالۍ کې د شاه او عروس بند پاتې چارې بشپړې او نن يې له نېکمرغه هېوادوالو ته د څښاک پاکو او همدا راز د کرنې لپاره د اړتيا وړ اوبو د برابرولو په موخه ګټې اخيستنې ته سپاري. محترم ملا صاحب زياته کړه، د دغه بند د چارو په بشپړېدو سره به ډېرو بزګرانو ته د ځمکو خړوبولو په موخه اوبه برابرې شي، د برېښنا پر توليد سربېره به د فردي اقتصاد او په ټوله کې د هېواد له ملي اقتصاد سره د پام وړ مرسته وکړي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو هېوادوالو ته د دغه لويې او ملي پروژې مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل چې د دې او نورو پروژو په ساتنه کې له اسلامي امارت سره اوره په اوره خپل فردي مسووليت په سمه توګه اداء کړي. د يادونې وړ ده چې د شاه او عروس بند د ۷۸ متره لوړوالي په درلودو سره د ۹،۴ ميليون مترمکعب اوبو د ذخيره کولو ظرفيت لري، چې شاوخوا ۳۵۰۰ هکتاره ځمکه به خړوبه او همداراز به ۱،۲ ميګاواټه برېښنا هم توليد کړي.



# د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د تخار ولايت له علماوو او قومي مشرانو سره وکتل



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمريز کال د جدي مياشتې په ۱۳مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د تخار ولايت له علماوو او قومي مشرانو سره په ليدنه کې د هغوی ستونزې واورېدې. د دغه ليدنې پر مهال د تخار علماوو او قومي مخورو خپلې ستونزې د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريکې او د هغو د حل غوښتنه يې وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، چې اسلامي امارت د ولس نظام دی، د ولس خدمت او ستونزو ته رسېدنه د اسلامي امارت د مسوولينو مسووليت دی او په پوره اخلاص او صداقت سره يې ترسره کوي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

د تخار علماوو او قومي مشرانو په یاد ولایت کې د اسلامي امارت له لوري په بېلابېلـــو برخو کې د پرمختیایي کارونو ستاینه وکړه او ویې ویل، د دغو کارونو په ترسره کېدو سره تر ډېره حده د هېوادوالو ستونزې حل شوې او د نن ورځې په ناســته کې د مطرح شویو ستونزو په هوارېدو سره به د تخار ولایت ولسونو ته لا ښې اسانتیاوې رامنځته او له خدماتــو به برخمن شي. په پای کې محترم ملا صاحب د شریکو شویو ستونزو د حل ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې اړوندو ادارو ته به په دې اړه لازمې لارښوونې وکړي.

## امارت اسلامی برای جلب سرمایه گذاری داخلی و خارجی در بخش های مختلف، تسهیلات را ایجاد کرده است

امارت اسلامی سهولت های سرمایه گذاری زیادی را برای سرمایه گذاران داخلی و خارجی ایجاد کرده که برای رشـــد اقتصادی و خودکفایی کشور مهم پنداشته می شود. هدف از ایجاد این تسهیلات، تقویت سکتور خصوصی، افزایش فرصتهـــای کاری، تقویت نهادهای اقتصادی و زیربنایی کشور و افزایش رشد اقتصادی می‌باشد.

امارت اسلامی برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی زمینه سرمایه‌گذاری مصؤن و مطمئن را فراهم کرده تا آنها بتوانند



با اطمینان در بخش‌های مختلف سرمایه‌گذاری کنند.

توجه ویژه بـــه روابط، بین ســـکتور خصوصی و حکومت، رسیدگی به موقع به مشکلات سرمایه گذاران، توسعۀ شبکه های خط آهن، بازسازی شاهراه ها و پل ها، توسعه زیربناها و ایجاد شبکه های معیاری ترانسپورتی و دهلیزهای هوایی از پیشرفت‌های اســـت که به منظور جلـــب سرمایه‌گذاری انجام یافته اســـت. همچنان کمیتـــۀ سرمایه گذاری بین الوزارتی که ۱۸ وزارت و ادارات امارتی عضویت دایمی آنرا دارد به عنوان واحد مرکزی، به منظور جلب و جذب سرمایه گـــذاری و سرمایـــه گـــذاران داخلی و خارجـــی، سرعت، هماهنگی، مساعد ســـاختن محیط مناسب و فرصت های اقتصادی برای سرمایه گذاران ایجاد گردیده است.

قابل یادآوریســـت که در نتیجۀ سهولت های ایجاد شده در عرصه سرمایه گذاری و مدیریت خوب کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی، ده ها شرکت داخلی و خارجی در بخش های زیربنا، برق، ترانسپورت، صنعت، زراعت و سایر بخش های مختلف سرمایه گذاری نموده است.

## اسلامي امارت د نورو سکټورونو ترڅنګ د سوداګرۍ سکټور هم په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی

د سوداګرۍ سکټور یو له مهمو او اغېزناکو سکټورونو څخه دی. اوس‌مهال افغانســـتان له ګاونډیو، سیمې او نړۍ له ډېرو هېوادونو سره ســـوداګریزې اړیکې لري او د لا پراختیا لپاره یې هڅې رواني دي. دا پـه داسې حال کې ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره د صادراتو په برخه کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

د ســـوداګرۍ اهمیت ته په کتو دغه ســـکټور د افغانستان اسلامي امارت په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی او موخه یې په دې برخه کې پرمختګ دی.

د ۱۴۰۳ لمریز کال په جریان کې د افغانســـتان سوداګرۍ کچه د پام وړ زیاته شـــوې ده. اسلامي امارت په دې برخه کې ګڼې اســـانتیاوې رامنځته کړې، چې ځینې یې لکه له بدیلو سوداګریزو لارو استفاده، د صنعتي پارکونو پراختیا، د ســـوداګرۍ خونو جوړول، په خامو موادو د تعرفې کمول، د ملي او نړیوالـــو نندارتونونـــو جوړول، د مالیـــاتي جریمو معافېدل، په ګمرکونو کې د ۲۴ ســـاعته خدمتونو وړاندې کول، د هوايي دهلېزونو پرانیستل، د معیاري ترانسپورټ په برخه کې د لویو لارو بیارغونه، د توکو کیفیت د کنترول لپاره د معیاري لابراتوارونو جوړېدل، د ګمرکونو عصري کول او په کې د برېښـــنایي خدمتونو وړاندې کول، د رېل پټلۍ شبکو پراختیا او بیارغونه، د سوداګرو او صنعتکارانو ستونزو ته پر وخت رســـېدنه، پـــه بېلابېلو برخو کې د کورنـــۍ او بهرنۍ پانګونـــې راجلبول او له ګاونډیو او ســـیمې هېوادونو سره د سوداګریزو اړیکو پیاوړتیا یې د بېلګې په ډول یادولی شو.

پـــه هېواد کې د ســـوداګرۍ ســـکټور په پراختیـــا سره به اقتصادي وده او عواید زیات، کاري فرصتونه به رامنځته، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې به افغانۍ باثباته، د تولیدي سکټور د پرمختګ ترڅنګ به له ګاونډیو او ســـیمې هېوادونو سره ســـوداګریزې اړیکې پراخې او په ټوله کې به په اقتصادي برخه کې ځان بسیاینې ته ورسېږو.

## داوونۍ اقتصادي خبرونه

## ورود تجهیزات استخراج نفت آمو دریا از چین به افغانستان



همایون افغان سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم گفته است که تمامی وسایل موردنیاز استخراج نفت از ساحه آمو دریا، از چین به افغانستان رسیده است. سخن‌گوی این وزارت افزوده که در حال حاضر کار اکتشاف و استخراج برخی از چاه‌های نفت در این ساحه جریان دارد و کار برخی آن‌ها تکمیل شده است. سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم افزود: «شرکت چینایی برای آوردن این ماشینری‌ها در افغانستان تعهد کرده بود و در حال حاضر تمام ماشینری و برمه‌های موردنیاز به ساحه رسیده و عملا در آن‌جا کار حفاری چاه‌ها جریان دارد.»

## چین در افغانستان ۳ سردخانه معیاری برای نگهداری میوه و سبزی تازه می‌سازد



وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌گوید که چین سه سردخانه معیاری با ظرفیت یک هزار و پنجصد تُن برای نگهداری میوه و سبزی تازه در افغانستان ایجاد می‌کند. مصباح‌الدین مستعین سخن‌گوی این وزارت، می‌افزاید که برخی از دیپلمات‌های چین در دیدار با معین وزارت زراعت، آبیاری و مالداری از اعزام انجینیران تخنیکی چین به افغانستان برای ایجاد این سردخانه‌ها نیز خبر داده‌اند. به گفته آقای مستعین، این سردخانه‌ها در ولایت‌های کابل، تخار و بدخشان ساخته خواهند شد.

## محدودیت‌های بانکی در افغانستان کاهش یافته است

بانک مرکزی افغانستان می‌گوید که در سه سال گذشته، محدودیت‌های بانکی در کشور کاهش یافته است. حسیب‌الله نوری سخن‌گوی بانک مرکزی گفته که کاهش این محدودیت‌ها نتیجه تلاش‌ها و نشست های فنی بانک مرکزی افغانستان با بانک‌ها و نهادهای مالی بین‌المللی بوده است. او همچنین افزود که تلاش‌ها برای مدرن‌سازی سیستم بانک‌داری در کشور ادامه دارد. سخن‌گوی بانک مرکزی درباره محدودیت‌های فعلی برداشت از حساب‌ها توضیح داد: «هفته‌وار افراد می‌توانند از حساب‌های افغانی تا ۱۵۰ هزار افغانی و از حساب‌های دالری تا ۲ هزار دالر برداشت کنند. در ماه نیز امکان برداشت تا ۵۰۰ هزار افغانی و ٦ هزار دالر از حساب‌های شخصی فراهم است.»

## وزارت اقتصاد: امسال کار ۳۵۵ پروژه توسعه‌ای آغاز شده است

کار کم از کم ۳۵۵ پروژه توسعه‌ای در سال جاری خورشیدی در بخش‌های گوناگون کشور آغاز شده که برخی این پروژه‌ها به بهره‌برداری سپره شده‌اند. سخن‌گوی وزارت اقتصاد گفته است که هزینه تمام این پروژه‌ها از عواید داخلی کشور تمویل شده و ۵۴ درصد از این پروژه‌ها در بخش‌های زیربنایی هستند. به گفته او، نزده پروژه دیگر در مرحله تدارکات قرار دارند. با این حال برخی از آگاهان بر این باور اند که کار روی پروژه های بزرگ که زمینه اشتغال را برای مردم فراهم کند، به سود اقتصاد افغانستان است و این پروژه‌ها باید بر اساس نیازهای افغانستان، اولویت‌بندی شود.




## په هیواد کې د مخابراتي شبکو د بیو د راټیټېدو پربکړه عملي شوې

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، چې په هیواد کې د انټرنېټ، غږیزو اړیکو او پیغامونو د بیو د راټیټېدو پرېکړه عملي شوې ده. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت کابو یوه میاشت وړاندې د هوادوالو د غوښتنو او د مخابراتي مارکېټ له ارزونې وروسته نوې بیې اعلان او مخابراتي شبکو ته یې یوه میاشت وخت ورکړی و چې دغه بیې په خپل سیستم کې ځای پر ځای او د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه یې عملي کړي. د مسوولینو په خبره اوس په ټول هېواد کې نوې ټاکل شوې بیې پلي شوې او هیوادوال کولای شي د مخابراتي شبکو له نویو ټاکل شویو بیو څخه ګټه پورته کړي.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلــو په برخــه كــې

د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته‌نامه آبادی




# په افغانستان کې د چای بوټي کښت او د هغه اقتصادي ارزښت ته کتنه


ليکوال: فضل ولي شيراني


## سريزه

د کرنې سـکتور د افغانسـتان د اقتصادي ودې له پاره ډېره مهمـه برخه ده. د افغانســتان تر نيمايي زيـات نفوس په کليوالي سيمو کې ژوند کوي او تر ډېره بريده په کرنيزو چارو بوخت دي او شـاوخوا ۶۰ سـلنه کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتياوې له همدې لارې پوره کوي. دغه سـکتور د خلکو له پاره ۴۰ سـلنه کاري فرصتونه برابروي چې د کاري زمينې په برابرېدو سره د خلکو زياتې اقتصادي سـتونزې هوارې او په عوايدو کې لوړوالی راځي. په تېرو کلونو کې د افغانسـتان د پخې اقتصادي ودې يو سـتر لامل د کرنې سکتور د ودې کمښت ګڼلی شو، ځکه په دې کلونو کې په کورني ناخالص توليد کې يې د کرنې سکتور ونډه ټيټه وه. په دې موده کې د کورنيو ناخالصو عوايدو په برخه کې د کرنې ونډه له ۲۲ نه تر ۳۳ سلنې پورې وه، سره له دې چې دغه سلنې په هېواد کې د وچکاليـو له امله نزولي او صعودي حالت درلود؛ خو بيا هم د هېواد په صادراتو کــې د کرنيزو محصولاتو ونډه زياته وه. د کرنيــزو نباتاتــو په منځ کې يــو هم د چای نبـات دی. په افغانستان کې د چای مصرف زيات خو کښت يې صفر دی. اسـلامي امارت د کرنې د نورو برخو ترڅنګ اوس ددې بوټي کښت ته پام اړولی دی او په خوست ولايت کې يې ازمويښتي کښــت پيل شوی دی. په دې ليکنه کې غواړو په افغانستان کې د چای د کښت له پاره د مناسب اقليم موجوديت او د هغه د اقتصادي ګټو په اړه خبرې وکړو.

## په افغانستان کې د چای د کښت له پاره مناسب اقليم

مساعد اقليم، ځمکه، اوبه او بشري ځواک هغه څه دي چې د کرنې او مالدارۍ سکتور ته وده ورکوي. افغانستان ښه مساعده آب او هوا، اقليم ، پراخه ځمکې، دښتې او پرېمانه خوږې اوبه لري، له همدې کبله يې د هېواد د نفوســو زيات برخه وګړي په کرنــې او مالدارۍ بوخت دي او د هېواد ملي اقتصاد ډېــره برخه يې په همدې کرنې او مالدارۍ ولاړه ده. همدا اوس په افغانســتان له غنمو نيولې بيا تر جوارو، پيازو، وريجو، کچالو، لوبيا، تازه ميوو ونو بيا تر زعفرانو، هنجې پورې ډول ډول کرنيز نباتات کښــت او ښــه حاصــل ورکوي. د افغانستان زعفران په نړۍ کې ښه شهرت لري او د زعفرانو د صادراتو څخه په کال کې په ميليونونو افغانۍ عوايد ترلاســه کېــږي. ددې نباتاتو په منځ کې يو نبــات چې د چای دی، مصرف يې په افغانســتان کې زيات دی، خو کښــت يې نه کيږي. په تېرو حکومتونو کې ددې نبات کښــت او روزنې ته چندان پاملرنه نه ده شــوې. خو اســلامي امارت د کرنې د پراختيا په برخه کې زياتې هڅې کړې دي. په دې برخه کې د پانګونــې له پاره زمينه برابره شــوې، د اوبخور له پاره يې د بندونو په ګډون کانالونه جوړ او پــر ځينو يې کار روان دی. هڅــه داده چې کرنه پراختيا ومومــي او پرمټ يې د داخلي عوايدو کچه لوړه شي. د کرنې د پراختيا په برخه کې وروستی ګام دا و چې د خوست په ولايت کې د شين چای د ازمويښتي کښــت چارې پيل شــوې دي. د خوســت ولايت د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ رياســت اړوند د کرنيزو چارو آمريت د تحقيقاتو عمومي مديريت د روان کال د ليندۍ په اوومه نېټه خبر ورکړ چې د شنو چايو د کښت، روزنې، تکثير او پروسس په موخه يې هڅې پيل کړې دي. د ياد رياســت مســـوولينو ويلي، چې د شــنو چايو دغــه بوټی د ياد ولايــت د ګربزو ولسوالۍ د دورمالکه په سيمه کې په نمونوي توګه کرل شوی او په منظمه توګه تر څارنې او پالنې لاندې دی. دا مهال ياد بوټی د نمونوي ودې په مرحله کې دی، چې له دې سره د شنو چايو کښت د سيمه‌ييزو بزګرانو لپاره د اقتصادي فرصتونو يوه غوره بېلګه ګڼل کېږي. د ياد ولايت د کرنې رياســت اړوند مســلکي ټيم بزګرانو ته د دې بوټي د کرنې، روزنې، تکثير او حاصل د لاسته راوړلو په برخه کې مسلکي او علمي لارښوونې کړې، ترڅو دا بوټی په معياري ډول وده وکړي او د دې هڅې پايله بريالۍ شي. ددې بوټي په دودېدو سره به افغانستان له يوه لوري د کرنې په برخه کې يو بل ستر ګام پورته کړی وي او له بل لوري به وکولای شي هغه اسعار چې د همدې بوټي په بدل کې نورو هېوادونو ته ورکوي، وسـپموي. دا چې دغه بوټي څه اقتصادي ارزښت لري، لاندې يې لولو.



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی

## د چای اقتصادي ارزښت

افغانستان چې د کرنې له پاره مساعده خاوره او هوا لري. سره له دې چې د افغانستان کرنه دودیزه بڼه لري، خو بیا هم د بېلا بېلو نباتاتو د کښت او له هغو څخه د ګټې اخیستنې له امله په نړیوال مارکیټ کې ځانګړی ځای لري. زموږ په هېواد کې له ډېره وخته د مختلفو نباتاتو کښت دود دی او بزګران له هغو نه یا په سوداګریز ډول یا هم د خپلې شخصي ګټې له پاره استفاده کوي. ددې نباتاتو په ډله کې یو هم د چای نبات دی چې تر دې مهاله زموږ په هېواد کې نه دی کښت شوی. دا نبات چې له پاڼې یې ګټه اخیستل کېږي، کلونه وړاندې په بېلا بېلو لکه چین، هند او داسې نورو هېوادونو کې مروج و. په افغانستان کې له دې نبات څخه په پراخه کچه ګټه پورته کېږي او مصرف یې زیات دی، ولې لا یې هم کښت نه دی دود شوی. دا چې دغه نبات په افغانستان کې نشته نو ټول له بهر څخه واردېږي.

چای د افغانستان په ګډون په نړۍ کې له اوبو وروسته دوهم څښناک دی. د ملګرو ملتونو خوراکي توکو او کرنې سازمان(فایو) له لوري په خپرو شویو شمیرو کې ویل شوي چې د نړۍ په کچه په کال کې شپږمیلیونه او څلور سوه زره ټنه چای مصرفېږي. د همدې سازمان د شمیرو پر بنسټ چې په نړۍ کې د چای لګښت کچه ۱۸ میلیارد ډالرو ته رسیږي. له دې جملې څخه افغانستان ته هم د کال ۷۶ زره متریک ټنه چای واردېږي. چای چې اصلي سرچینه یې چین دی، خو په افغانستان کې یې هم څښونکي زیات دي. نو چې په دې اندازه چای په هېواد کې مصرف شي، نو طبیعي خبره ده چې افغانستان به له دې درکه په میلیونونو ډالر مصروفوي، تر څو د خپلې اړتیا وړ چای برابر کړي. که څه هم کره معلومات نشته چې کله د چایو دغه بوټي افغانستان ته راوړل شوي او په کلني ډول یې په دې هېواد کې مصرف څومره دی، خو د افغانستان د سوداګرۍ خونه وایي، د کابو ۱۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت په کلني ډول چای هېواد ته راوړل کېږي. مطلب موږ د چای له پلوه په زیاته اندازه اسعار مصرفوو. ښه خبره داده چې د افغانستان په دننه کې د چای کښت ته مخه شي، ترڅو له یوه لوري د خپلې اړتیا وړ چای تولید او له بل لوري د چای له درکه چې کومې پیسې له هېواده وځي د هغو مخنیوی او پر هغو وارداتو ولګول شي چې افغانستان ورته اړتیا لري. دغه راز ددې کرونديز په رواجېدو سره به زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه هم برابره شي.

اسلامي امارت د چای مصرف او د هغه اقتصادي ارزښت ته په کتو د نورو کرنیزو بوټو ترڅنګ په افغانستان کې د چای نبات کښت ته هم پام اړولی دی. د خوست په ولایت کې په ازمويښتي ډول د چای بوټي کرل ددې ادعا ښه ثبوت دی. که چیرې دا بوټی عام او کښت یې زیات شي، نو له یوه لوري به افغانستان وکولای شي د خپلې اړتیا وړ چای برابر کړي او له بل لوري به په کلني ډول په میلیونونو ډالر سپما کړي. دغه راز افغانستان پراخې دښتې او خاورینې غونډۍ لري چې د چای د کښت له پاره مناسبې دي، کولای شي ددې بوټي په کښت سره په دې وتوانيږي چې له خپلې اړتیا زیات چای تولید او نورو هېوادونو ته یې صادر کړي. په دې سره بیا کولای شو چې د صادراتو د زیاتوالي ترڅنګ د اقتصادي ودې په لور هم ګامونه پورته کړو.

## پایله

لکه څنګه مو چې پورته اشاره ورته وکړه چې افغانستان د کښت له پاره پراخې ځمکې او د کرنې له پاره وړ اقلیم لري او د هر ډول نباتاتو د کښت له پاره مناسبت دی. پخوا به د یو شمېر نباتاتو په اړه ویل کېدل چې دا په افغانستان کې چندان پایله نه ورکوي، خو کله چې کېنول شول او یا وکرل شول، نو پایله یې د ډېر هېوادونو په پرتله ښه وه. د مالټو، سترسو، خرما، کېلو ، زعفرانو او دې ته ورته ځینې نور نباتات و چې کښت یې په افغانستان کې نه کېده، خو تر کرلو وروسته یې اوس حاصلات ډېر ښه دي او تر ډېره بریده د هېواد اړتیا پوره کولای شي. که چیرې په دې ډول چای چې افغانستان کې یې مصرف زیات دی، وکرل شي نو ددې نتیجه به هم مثبته وي. اسلامي امارت په همدې موخه په هېواد کې د چای بوټي د کښت له پاره خپلې هلې ځلې پیل کړې دي. د خوست په ولایت کې د شنه چای د بوټي ازمويښتي کښت یې ښه بیلګه ده. ددې بوټي په دودېدو سره به له یوه لوري په کور دننه د چای اړتیا پوره شي او له بل لوري به د همدې بوټي په مرسته د عوایدو په کچه کې زیاتوالی شي، د چای له درکه د مصرفي اسعارو مخنیوی به هم وشي په دې سره به اقتصادي وده ګړندۍ کرنه به پراخه او زرګونو کسانو ته به د کار زمینه برابره شي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۰،۷۵؋ | ۷۰،۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۴۴؋ | ۲۴۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱،۲۸؋ | ۱،۲۸؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۲،۹۷؋ | ۷۳،۰۲؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰،۶۴؋ | ۰،۶۴؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۲۵؋ | ۸۲۶؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۸۷،۸۹؋ | ۸۷،۹۵؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸،۸۴؋ | ۱۸،۸۵؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹،۲۶؋ | ۱۹،۲۸؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹،۶۶؋ | ۹،۶۷؋ |

# ANALYSIS OF THE ECONOMIC VALUE OF THE AFGHAN-TRANS RAILWAY PROJECT




**By:** Fazal Wali Shirani
**Translated by** Sajad Ahmad K.


## Introduction

Afghanistan is one of the landlocked countries in the world. For such countries, particularly in Asia, rail transport is the most efficient, secure, and economical means of transportation. Railways provide a strategic advantage for promoting rapid trade by connecting regional and global markets. Without this connectivity, achieving regional integration and access to major economic and trade hubs worldwide would remain challenging. Recognizing this importance, the Islamic Emirate of Afghanistan has prioritized the railway sector alongside other development initiatives, implementing several projects and planning others. Once Afghanistan is connected to regional and global networks via rail, the country is expected to see expanded trade and significant economic growth. Among these initiatives is the Afghan-Trans Railway, a major project discussed in this article along with the history of railways in Afghanistan and the economic impact of the Afghan-Trans Railway.

## The Afghan-Trans Railway Project

The Afghan-Trans Railway spans 760 kilometers, featuring 33 railway bridges and three stations, with an estimated construction cost of $4.8 billion. Initially proposed by Uzbekistan in December 2018, the project's goal was to extend Afghanistan's railway network from Mazar-e-Sharif to Kabul, then to Nangarhar Province, passing through Torkham to enter Pakistan via Peshawar. From there, goods would integrate into Pakistan's railway system and be transported to the ports of Karachi, Gwadar, and Qasim. The Afghan-Trans Railway is projected to handle an average of 15 million tons of commercial goods annually, connecting Central Asia to South Asia. It will allow Afghanistan to export goods to these regions at reduced costs while importing essential commodities more affordably. This, in turn, will transform Afghanistan into a vital hub for regional connectivity, increase national revenues, boost trade, stimulate economic growth, and foster overall development. However, in July 2023, the Ministry of Public Works of the Islamic Emirate signed an agreement to alter the project's route. Initially, the railway was to extend from Termez, Uzbekistan, through Mazar-e-Sharif, Kabul, Nangarhar, and Torkham to Peshawar. The revised route now extends from Termez through Mazar-e-Sharif, Logar, and Khost, entering Pakistan via the Kurram border in Paktia Province, where it will integrate with Pakistan's railway network. The new route is shorter and more economical compared to the original plan. The Islamic Emirate has intensified its efforts to achieve economic growth and regional integration, with the Afghan-Trans Railway being a cornerstone project. Additionally, other expansion plans for the railway network have been outlined. According to the 9th resolution from the Economic Commission led by Deputy Prime Minister for Economic Affairs Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, the Railway Directorate, now part of the Ministry of Public Works, has been instructed to prioritize projects such as the Herat-Torghundi, Rabat Parian, Airport and Andkhoy-Mazar-e-Sharif railways. Furthermore, the Ministry has been directed to complete feasibility studies for extending the railway from Herat to Spin Boldak and coordinate with the Economic Commission for guidance. If realized, these projects could position Afghanistan as the linchpin of Asia's connectivity. Let's discuss the economic value of this project now.



## Economic Impacts of the Afghan-Trans Railway

In today's world, few countries lack railway networks; rail connectivity is prevalent across nations, regions, and even continents. Railways facilitate significant portions of passenger and freight transport, serving as a backbone for economic activity. Afghanistan, however, has lagged in this regard. In the past three years, attention has been given to rail development as a means to transform Afghanistan's economy. Notable steps have been taken to construct and expand railways, enabling Afghanistan to potentially become a regional transit hub. Through the Afghan-Trans Railway, Afghanistan can encourage other countries to engage in bilateral and multilateral trade initiatives, leveraging the country's geographic position for regional connectivity. A key advantage in this effort is the prevailing security and the Islamic Emirate's commitment to advancing this sector. Neighboring countries should seize this opportunity to invest in Afghanistan's railway projects. Completion of these initiatives could revolutionize regional transit by connecting the East to the West and the North to the South via Afghanistan. The Afghan-Trans project holds particular importance for regional integration. This railway network will connect Afghanistan to the broader regional railway system, providing access to new markets in Central and South Asia. The network will facilitate the easier and more cost-effective movement of goods, expanding trade, attracting investment, and creating job opportunities. Implementing the Afghan-Trans project could reduce transportation costs for goods by 40%. Moreover, the Afghan-Trans Railway offers domestic, bilateral, and regional benefits. It will link Afghanistan to neighboring countries' railway networks, such as those in Central and South Asia, and grant access to open seas. For instance, through the Afghan-Trans network, Afghanistan will connect with railway systems in Central Asia, South Asia, and beyond, fostering



economic integration.

The Afghan-Trans project, a collaborative initiative between Uzbekistan, Afghanistan, and Pakistan, is set to begin in Uzbekistan's Termez city and will pass through several Afghan provinces before connecting with Pakistan's railway network. According to officials from Afghanistan, Pakistan, and Uzbekistan, the estimated cost of constructing the Afghan-Trans railway project is approximately $5 billion. Once implemented, this regional project will grant Central Asian countries access to the Indian Ocean. The project is expected to reduce the transportation time for goods from 35 days to just five days while lowering costs by 40%. The Afghan-Trans railway will not only link South and East Asian countries but also significantly boost trade volumes between them, amounting to billions of dollars. Moreover, the provinces through which this railway passes will experience expanded trade activities. By 2030, the railway is projected to facilitate the transportation of approximately 15 million tons of goods annually, thereby creating opportunities for employment, commerce, and enhanced connectivity across Afghanistan.

### Conclusion

Afghanistan's lack of direct access to the sea underscores the importance of connectivity with regional and global markets. To achieve this, land transportation, particularly railways, plays a critical role. Compared to other transport modes, railways are more cost-effective and efficient for freight movement. The Islamic Emirate has taken steps to expand Afghanistan's railway network, though current connectivity remains limited. Strategic projects, such as the Khaf-Herat railway, already provide access to Iran and subsequently the Middle East. Additional initiatives, including the Herat-Torghundi and Herat-Kandahar railways, aim to link Afghanistan with Turkmenistan, Central Asia, and South Asia. The Herat-Mazar-e-Sharif railway will connect Afghanistan with Uzbekistan, Tajikistan, and eventually China. Among these projects, the Afghan-Trans Railway stands out as a vital initiative. Its successful implementation and the completion of other planned railway projects will enable Afghanistan to access international markets and seas, fostering trade expansion. This trade growth will spur economic development, ultimately leading Afghanistan toward a prosperous future.